# د وخت سفرنظریه

Ketabton.com



لیکوال: انجینر جلیل خان آرمان

تماس:۰۷۰۵۷۶۰ ۱۶۷

ketabton.com - The Digital Library

# د وخت سفر

د وخت سفر همیشه د انسان د څیړنو مرکز او خوب پاته دی .

څه به وشی کله موږ ماضی ته په تلو سره له ځان سره ملاقات وکړو؟

څه به وشی کله چی موږ په ځمکه کی اوسیدو ولا لومړی مخلوقاتو سره ووینو؟

څه به وشی کله چی موږ د ماضی جنګونه په خپلو سترګو ووینو؟

څه به کله چی موږ مستقبل ته یا راتلوونکی زمانی ته په تللو سره د خپل زوړ حالت سره ووینو؟

آیا دغه ټوله سوالات او مفکورات په یوې طریقی سره ممکن کیدای شی؟

د وخت د سفر کولو په مطابق په ساینس کی زیات نظریات شتون لري مګر د ځینو مشهور ترینه نظریاتو په رڼا کی موږ به ددغی موضوع ددغی موضوع د پیژندلو کوښښ به وکړو او ددې اصلی حقیقت به وپیژنوږ

یقینان د وخت سفر کول په اوریدو سره چې څومره آسانه ښکاری دومره دی نه. د ساینس په ابتدایی دور کی د وخت سفر کول خلکو ته یو ښکاره لیونتوب او ناممکن ښکاریده مګر د آینستاین د نسبیت نظریی د رامنځته کیدو وروسته دغه موضوع ډیره په دقیقه توګه ونیول شول ، دا ځکه چی د هغه دمخه داسی ګڼل کیدل چې د وخت سرعت په ځمکه او خلاء کی هر ځای یو ډول دی یعنی له دغه نظریی دمخه خلکو داسی فکر کاوه که مثال اوس په کندهار کی ۷ بجی وی ، نو په ټوله کائینات به هم ۷ بجی وی مګر اینستاین د خپلی نسبیت نظریی په واسطه دا خبره نړی ته وړاندی کړل چې په کائینات کی د وخت سرعت هر ځای یو ډول نه دی ، په خلاء کی د وخت سرعت د ځمکی په څیر نه دی او خلاء او وخت سره یو ځای دی کوم ته چی په انګلیسی کی SPACE AND TIME وایی.ددغه مشاهده موږ په خپل روزمره ژوند کی هر وخت بی کوو او وخت مسلسل په یوه سمت باندی مخته روان دی او موږ د کوچنیوالی څخه ځوانی او له ځوانی څخه د زوړوالی مرحلی و طرف ته روان دی . خلاء او وخت ته موږ څلورم بعد یا ایام هم وایلی شو .

ددغه نظریی څخه داسی معلومه شوه چې که د کوم وجود سرعت د نور سرعت د سرعت ۹۵ فیصده سره مساوی شی ، نو ددغه لپاره وخت به کرار شی مګر دده د ماخذ د چوکاټ څخه د باندی وخت به ډیر تیز روان

ketabton.com - The Digital Library

وی یعنی د وخت د سرعت کرار کیدل فقط دده لپاره به او دده په شاوخوا چی کوم نور شیان موجود وی د هغو لپاره به د وخت سرعت عادی یا ډیر تیز به وی.

د نور په سرعت سره په یوه ثانیه کی موږ د ځمکي په شاوخوا ۷ دوره پوره کولی شو. په دومره تیز سرعت سره سفر یا داسی عصری ټکنالوژي جوړول د انسان د وس خبره نه ده .

د انستاین د نسبیت نظریی په مطابق د کائېنات هر څیز سرعت د نور له سرعته تیز نه شی کیدای او که داسی وهم شی نو ددغه جسم لپاره به د وخت د تیریدو سرعت به کرار شی. راځي چی دا د یو مثال سره ووایو. تاسو فرض کړی چی تاسو اوس په یو ریلګادي کی روان یاست ، د کوم سرعت چی د نور له سرعت سره مساوی او یا د نور د سرعت ۹۵ فیصده سره برابر دی ، په دومره تیز سرعت سره تاسو به د ځمکي په شاوخوا ۷ دوره پوره کړی ، په داسی حالت کی په ریلګادی کی ناست تاسو او نور خلکو لپاره چی په دغه ریلګادی کی درسره موجود دی د وخت سرعت به کرار شی مګر د ریلګادی د باندی موجود خلکو لپار به وخت په ډیر تیزی سره روان وي ، کله چی له په دومره تیز سرعت سره یوه اونی بعده تاسو او په ریلګاډی کی موجود نور خلک له ریلګاډی څخه تا شی ، نو پر تاسو به یوازی ۱ اونی وخت تیز شوی وی مګر د ځمکی پر خلکو به ۷۰ څخه نیولی تر ۱۰۰ کاله پوری وخت به تیر شوی وی او تاسو ټوله به خپل ځان په مستقیل کی وینی.

نور په سرعت سره سفر کولو سره یوازی مستقبل ته تلل ممکن دی یعنی دا یک طرفه لاره او ټیکټ یی راتلوونکی ته دی له کوم څخه چی بیرته راتلل ناممکنه دی مګر په دغه نظریه کی هم یو مشکل شته او مشکل دا دی کله چی یو جسم د نور په سرعت سره حرکت وکړی نو ددغه جسم کتله به لایتناهی یا لا محدود به شی او داینستاین $E = mc^2$ فورمول په مطابق ددغه لامحدود کتله لرونکی جسم د چلولو لپاره د یوې لا محدودی انرژي ته ضرورت شته ، دومره انرژي څومره چی زموږ په ټوله کهکشان یا په ټوله کائینات کی د الله تعالی له ذات څخه بغیر بل له هیچا سره به هم نه وی او همدغه طاقت الله (ج) ۱۴۰۰ کاله دمخه خپل محبوب حضرت محمد(ص) ته ورکړ ، کله چی ده مبارک له مکی معظمی څخه بیت المقدس او له ځایه د آسمانونو سفر په تیز رفتاره بوراق باندي سپور کیدو سره تر سره کړ ، چیری چي الله (ج) د مبارک ته خپل نښانات ور وښودل .

لفظا بوراق د برېښنا جمع ده یعنی برېښناوي او د برېښنا سرعت د نور له سرعته لږ څه کم دی لحاظا که د برېښنا سرعت جمع کړل شی یعنی د څو برېښناوی سره یو ځای کړل شی ، نو دا ثابتیږي چي رسول الله (ص) د نور له سرعت څخه لا تیز سرعت سره د معراج سفر تر سره کړ .لحاظا د نور له سرعت څخه هم تیز سرعت

ketabton.com - The Digital Library

لرلو باوجود دده مبارک لپاره وخت روان وو مګر په ځمکه او دده په شاوخوا موجود شیانو او ځایونو لپاره وخت دریدلی وو د کوم تصدیق چی د نن ورځي موجوده ساینس یې هم کوی . بیشکه الله تعالی په هر څه قادر دی او الله تعالی همیشه د خپل محبوب(ص) الفاظ او د قرآنکریم د رښتینی ثابت کولو لپاره ثبوتونه وړاندی کړی ، وړاندی کوی یې او ورځ تر قیامته به یې وړاندی کوی. په کوم باندی چی موږ ټوله مسلمان باور او ایمان لرو.

اینستاین او دده سره ریزر په نامه بل عالم د نسبیت نظریې د محاسبې په دوران یو خلایی پایپ یې محاسبه کړ او ددغه پایپ ته یې د روزن بریجس نوم ورکړ ، کوم چي د نن ورځي د ساینس په ژبه چینجی سوري( worm hole) په نامه یادیږي. په ساینس کی ددغه غارونو په اړه داسی نظریه وړاندی کیږي ، چي د دوي په واسطه په کائینات کی موجود میلیونو یا بیلیونو کلومتره فاصله په ثانیو یا لحظو کی پوره کیدای شی.

دغه غارونه دوې جلا جلا سیمی کوم چی د وخت له لحاظه سره بیل وی سره یو ځای کوی، ددغه غارونو یوه خوله په موجوده کائینات کی او بله خوله په وخت کی یو نامعلوم ځای کی خلاص وي یعنی د یوه قدم په فاصله کی دویم جهان .

دا چینجی سوری په فضاء او وخت کی موجود ډېر غټ غټ غارونه دی د کوم په واسطه چي په وخت کی سفر ممکن دی مګر څرنګه راځي چی د یو مثال یې ووایو.

فرض کړی چی د دوو مقاماتو تر منځ فاصله ډیره پیچلی ده ، د کوم له امله چی موږ زیات سفر کولو ته مجبوره یو او د زیاتی فاصلی د سفر کولو له امله زیات وخت نیول کیږي مګر که موږ دغه دوه مقامات د یوې مستقیمی لاری په وسیله وصل کړو ، نو په داسی حالت کی ډیره کمه فاصله دویم مقام ته د رسیدلو لپاره به وواهو ، دکوم له امله چی له لږ وخت به ونیول شی. یقینان تاسو به اوس فکر کوی چي دغه مستقیمه لاره ددغو دوو مقاماتو تر منځ تېولو لنډه لاره ده ، کوم چي نور نه شی لنډیدلی و مګر دا حقیقت نه دی څه به وشی کله چی موږ دغه دواړه مقامات له یو بل سره داسی وصل کړو چی د دوي تر منځ ټوله فاصله ختمه شی یعنی د یو قدم په اخیستلو سره دویم مقام کی به شتون پیدا کړو .په داسی حالت کی موږ به له یو مقام څخه خارج کیدلو سره دویم مقام کی به شتون پیدا کړو .

اوس دلته یو سوال پیدا کیږي ، هغه دا چی یو لیری مقام ته رسیدلو سره د وخت سفر کولو تعلق آخر څه دی؟

ketabton.com - The Digital Library

ددغه سوال په جواب کې زما رایه دا ده چې په کائینات رامنځته کیدونکی هر عمل په حقیقت د ماضی یعنی د تیری زمانی یوه برخه ده ، مثال په توګه نن ورځ له ځمکی څخه چې موږ هر څومره ستوري وینو ممکن دی چې هغه نن ورځ شتون لا ونه لری او څو میلیونه کاله مخکی ختم شوی وي مګر د دوي رڼا څو میلیونه نوری کاله فاصله پوره کولو سره نن ورځ موږ ته رارسیدلی ده ځکه چې د نور سرعت $300000KM/_S$ دی مګر په کائینات کی فاصله د څو سوو ، زرو ، ټریلیونو نوری کاله په حساب دی .

زما د خبری مطلب دا دی که موږ نن ورځ له ځمکی څخه داسی ستوری ته ګورو کوم چی له ځمکی څخه ۶۰۰ نوری کاله لیری وی ، که چیری دی نن ورځ ختم شی نو موږ ته به ۶۰۰ کاله وروسته به دا معلومه چی دا ستوری نور ختم شوی دی ، دا ځکه ددغی ستوری په ژوند په آخری لحظه کی چی هر څومره رڼا تولید شوی وی هغه به تر ۶۰۰ کاله پوری به ځمکی ته را روانه وی او کله چی هر ۶۰۰ کاله بعده دده دغه تولید شوی رڼا هم ختمه شی نو په هغه وخت به موږ ته دا معلومه چی نور دغه ستوری شتون نه لری حال دا چی دغه ستوری به ۶۰۰ کاله مخکی ختم شوی وی.

نور یا رڼا چی $300000KM/_S$ سرعت درلودلو سره په کائینات کی تر ۱ کاله پوری هر څومره فاصله چی بشپړ کړی دي ته یو نور کال وایی. که داغه خبره په پام کی ونیسو ، نو که چیری موږ په خلاء د نور سرعت سره هر څومره لیری ځای پوری سفر وکړو و په وخت کی به دوغومره شاته روان یو ، حتا د کائینات د تخلیق مشاهده به هم ۱۴ بیلیونه کاله شاته تلو سره کولی شو . د ساینس د نظریې په مطابق داغه مقصد د چینجی سوری (worm hole) په واسطه ممکن کیدای شی ، د کوم په واسطه چی د کائینات له یوې برخی څخه بلی برخی ته د وخت له لحاظه شاته یا مخته تلی شو یعنی د وخت سفر ددغه غارونو له لاری ممکن دی .

ددغه غارونو اوله خوله چی هر چیری خلاصه وي مګر ددغه غارونو دویمه خوله به چیری خلاصه وی په دغه موږ نه پوهیږو . دغه غارونه یوازی په خلاء کی نه بلی زموږ په شاوخوا ځمکه کی هم شتونه لری ، داسی غارونه یوازی کائینات ۲ برخی نه سره وصل کوی بلکی د وخت دوه مختلف حالتونه هم سره وصل کوی یعنی که په ځمکه کی موږ کوم چینجی سوری پیدا کړو او په هغه کی داخل شو نو کیدای شی دده دویمی خولی په واسطه موږ یو داسی دنیا ته لار شو کوم چی د وخت له لحاظه زموږ له ځمکی څخه یا ډیر مخته وی او هم شاته .داسی هم ممکنه ده چي په ځمکه که موجود ددغه غارونو یوه خوله زموږ په ځمکه او بله خوله زموږ په شمسی نظام کی موجود پلوټو سیاره کی خلاصه وی کوم چي له ځمکی څخه تقریبا ۴ بیلیونه کلومتره لیری دده. لحاظا پلوټو

ketabton.com - The Digital Library

سیاره کی وخت د څمکی له وخت سره برابر نه وي یا خو به هلته وخت څو زره کاله مخته اوسی او خو څو زره کاله شاته . دلته یو بل سوال هم پیدا کیږی:

**آیا په ځمکه کی موجود تردغه غارونو پوری رسیدل ممکن دی؟**

د ساینسپوه ستیفین هاوکینګ د نظر په مطابق په ځمکه کی موجود دغه غارونه کوم چی زموږ په شاوخوا کی شتون لری ، د یوه اټوم له هستی څخه هم څو میلیونه واری کوچنی واری کوچني دي او دویمه خبره دا ده چی په ځمکه کی موجود دغه غارونه پاتیدونکی نه دی یعنی په یوه ثانیه کی هم پیدا او هم ختم شی او د دوی دغه سلسله د وخت سره سره روانه ده. نو لحاظا په ځمکه کی موجود چنیجی سوریو رسیدل ممکن نه دی.

زما د خپلی نظریی په مطابق د وخت سفر په هیڅ کوم حالت کی ممکن نه دی ، دا یوازی د انسانی افکارو مشاهدات دی . په انټرنیټ کی موجود د مستقبل څخه راغلو خلکو کیسی بلکل غلط او بی بنیاده دي او عکسونه د فوټوشوپ په واسطه جوړ شوی او عکاسیانی یی بیلکل نقلی کوم چي په یوې طریقی سره ستوډیو کی جوړ شوی او لامل یی دا دی چی عوام داسی شیان خوشوي ، اوری او ګوری یی. همدغه لامل دی چي د وخت سفر کولو خبره یوازی تر فکره پوری محدوده ده ، کومو خلکو چی د مستقبل څخه د راتلو دعوا کړې ، په دوي کی یو هم د میډیا په واسطه نړی نه وړاندي نه شو ، کوم چي په خپله دا اقرار وکړی چي هغه د مستقبل او یا هم له ماضی څخه راغلی دی . ددغه علاوه داسی واقعات یوازی له اروپا څخه راوځي ، دا ځکه چي د اروپا خلک داسی کیسی په جوړولو او خپرولو سره د خلکو اعتماد ترلاسه کولو کوښښ کوي ، کوم چي ۱۰۰ فیصده درواغ دی.

**د وخت سفر آخرولی ممکن نه دی؟**

ددغه سوال جواب زما په ذهن کی موجود ځینی سوالونه دی کوم چي ما په لاندی ډول بیان کړي.

1. داسی څرنګه ممکن کیدای شی چي زه دی په یوه وخت کی دوه ځایه شتون ولرم؟
2. د ساینس له نظره د وخت د سفر کولو په واسطه موږ په وخت کی شاته یا مخته تللو سره خپل کول شوي ګناهونه او اشتباهات له منځه وړلی او سم کولی شو او د خپلی خوشي په مطابق ژوند کولی شو ، که چیری داسی ممکن وی دا دنیا زموږ لپاره څه ډول یو امتحان جوړیدلی شی او په آخرت کی موږ ته به په کوم بنا باندي جنت او دوزخ راکول کیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

3. فرض کړی چې تاسو خپل ماضی ته په تللو سره د خپل مور او پلار د واده خنډ شی او دا واده یې له منځه یو شی ، نو که داسی وشی نو تاسی بیا په جاری او هم مستقبل کی څرنګه شتون درلودلی شی؟

دغو سوالاتو ته په کتو د وخت سفر د ساینس او ټکنالوژي له لحاظه ممکنه دی .

## د اسلام له اړخه د وخت سفرکول

د وخت سفر په روحانی او جدانی توګه ممکن دی او په اسلامی تاریخ کی ددغه زیات واقعات موږ تر لاسه کړی. په اسلامی کی زیاتره داسی شخصیتونه شتون لری کوم چې د وخت سفر یې تر سره کړی ، د مثال په توګه حضرت عزیر علیه اسلام ۱۰۰ کاله د خوب په حالت کی پاته شو او بیا د الله تعالی په حکم سره راپورته شو ، کله چی دی ویده وو نو دده په شاوخوا وخت په نورماله توګه سره روان وومګر په کوم ځای باندی چی دی ویده شوی وو هلته وخت دریدلی وو.

اصحابی کهف ۳۰۰ کاله په یو غار کی ویده وه .

صورة الکهف آیات نمبر ۹ څخه تر ۱۱ پوری الله تعالی فرمایلی:

ترجمه: آیا نه انګیری چې د ځمځی او لوحې خاوندان ، زموږ له کومو ډېرو حیرانوونکو نښانو څخه ول . کله چې ځو تنه ځلمیانو ځمځی ته پناه ور وړه او ویې ویل ؛ ای پروردګاره ! موږ په خپل ځانګړی رحمت سره سر لوړی کړه او زموږ چاره سمه کړه ، نو موږ هغوي په همغه ځمځه کښې په غوږونو ټپولو تر اوږدو کلونو پوری په درانده خوب ویده کړل.

صورة الکهف آیات نمبر ۲۵ کی الله تعالی فرمایلی:

ترجمه: او هغوي په خپله ځمځه کښې درې سوه (ملريز) کاله پاتی شول .

په خوب کی د ویده کیدو په مهال د دوي لپاره وخت دریدلی وو ، لحاظا په دوي باندی د عمر د ډیریدلو او د وخت د تیریدلو هیڅ اغیزی موجودی نه وی .

ketabton.com - The Digital Library

ددغه علاوه داسی زیات واقعات شتون لری کوم چی دا ثابتوی چي په وخت کی سفر  یوازی په روحانی توګه ممکن دی او انسان که هر څومره کوښښ وکړی نو په وخت کی په مادي توګه شا و مخته  نه شی تلای ځکه دا د قدرت د قوانینو خلاف دي او د الله (ج) په قدرت کی لاس واهل په هیڅ صورت کی ممکن نه دی .

زه امید لرم چی زما  دغه لیکنه ستاسو د خوښي وړ ګرځیدلی وی .

**ستاسو د قیمتی وخت راکولو څخه نړی نړی مننه**

**با احترام**

**تاریخ**

**۱۴۰۵/۱/۲۳**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*